# بلوچستان کښې د پي ایس ایف ریلي

ګل حسن کاکړ صوبائي پرېس سکرټري

د پښتون ایس ایف له اړخه په پښتونخوا وطن او کراچۍ کښې د دهشت ګردۍ، انتهاپسندۍ او ټارګټ کلنګ برخلاف د صوبائي قیادت لاندې یوه لویه ریلۍ او احتجاجي جلسه وشوه. په دې ریلۍ او جلسه کښې د صوبې ټولو تعلیمي درسګاهونو چې په کښې ژوب، قلعه سیف الله، موسیٰ خېل، زیارت، هرنائي، سبي، کوئټه، پشین، قلعه عبدالله، خضدار انجنئیرنګ یونیورسټي، آئي ټي یونیورسټي، کوئټه یونیورسټي، د بولان میډیکل کالج په زرګونو طالب علمانو شرکت وکړو.



دغه عظیمه ریلي د سائنس کالج څخه راوبستلې شوه، جناح روډ، پرنس روډ، پرجنکشن چوک باندې په یوه احتجاجي جلسه بدله شوه. دې احتجاجي جلسې ته د پښتون سټوډنټس فېډرېشن صوبائي صدر منظور احمد کاکړ، ملک قاسم، خان محمد کاکړ، خلیل آغا، قسیم کاکړ، غفار مهرزي وېناوې وکړې. د پښتون سټوډنټس فېډرېشن صوبائي صدر منظور احمد کاکړ په خپله صدارتي وېنا کښې ووئیل چې کۀ نن په کوئټه کښې د پښتون ایس ایف د درېو شهیدانو او پښتنو تاجرانو مرګ دے او یا کۀ په کراچۍ کښې د پښتنو قتل عام دے او کۀ په پښتونخوا صوبه کښې د یو نۀ لیدونکي دښمن لګېدلے اور، دا ټول په یو داسې وخت کښې روان دي چې پښتنو ته د یو فکر او سوچ بلنه ورکوي او دا د پښتنو د پاره نااشنا خبره ښخي نۀ ده. ځکه چې د پښتنو خلاف بېن الاقوامي دسیسې روانې دي. اول په افغانستان کښې د دېرش لکه افغانانو وینې وبهېدلې او هغه هم د اسلام په مقدس او سپېڅلي نوم او نن د لیکې په دې خوا اباد پښتون وطن کښې قتل و غارت، د پښتونخوا صوبې قیمتي وسائل

بربادول، په هغه ښائسته وطن سوات کښې د بارودو امبار لګول، د جينکو او هلکانو سکولونه، کالجونه سوځول دا زمونږ د هغۀ نۀ ليدونکي دښمن عمليات دي چا چې زمونږ د کور د ورانولو اراده کړې ده.

خو مونږ چې يو مهذب او سيال قام يو خپل يو تاريخ، جغرافيه، روايات او اقدار لرو او د ټولو نه زيات د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه ډېر کلک اعتقاد لرو. مونږ د دغه ټولو سازشونو څخه نۀ صرف اګاهي لرو، بلکې د دغې د مخنيوي دپاره خپله يوه منظمه پارټي او د دور انديش مشر اسفنديار ولي خان په رهبرۍ کښې خپله لائحه عمل او فېصله هم لرو. دوي زياته کړه چې هغه عمليات هغه وخت نور هم زيات شو چې کوم وخت په ۱۸ فرورۍ ۲۰۰۸ کښې پښتون قام په ټول ملک کښې خپلې پارټۍ اې اين پي ته خپل واک او اختيار وسپارۀ. نن مونږ د دې ملک په هغه مقامي ادارو کښې د خپلو عوامو د ښۀ سباوون دپاره خپله خبره او موقف ښکاره کړے دے. د خپل قومي شناخت "پښتونخوا" دپاره نن په قومي اسمبلۍ، سينټ کښې، پښتونخوا صوبه کښې او تر دې چې د پاکستان صدر هم نن د پښتنو قومي شناخت پښتونخوا منلې ده نو داسې حالات زمونږ هغه ازلي دښمنان نۀ شي هضمولے او د پښتنو خلاف ئې دغه جنګ تود کړے دے. دوي



زياته کړه چې نن زمونږ ملي مشر اسفنديار ولي خان د پښتنو د قومي شناخت، ګټو، ښۀ سباوون دپاره په خپله خاوره "امن" راوستلو دپاره چې کومې هلې ځلې رواني کړې دي، انشاءالله ډېر زر به په مونږ يوه ښۀ ورځ راځي او دا زمونږ هغه لوئے والے دے چې دښمن دغه عمليات روان کړي دي، دوي زياته کړه چې پښتون ايس ايف په تعليمي ادارو کښې د پرامن تعليمي ماحول د قيام دپاره خپلې هلې ځلې جاري ساتي او د خپلې پارټۍ اې اين پي د يو ځوان قيادت په حېث خپلې ملي ذمه وارياني سر ته رسولو دپاره هېڅ قسم کوتاهي نۀ کوي. دوي په کوئټه، کراچۍ کښې د پښتنو طالب علمانو او تاجرانو د قتل په سختۍ سره مذمت وکړو. په دې ريلي کښې طالب علمانو پلې



کارډونه او بېنرې راخستې وو چې دا نعرې پرې درج وې چې "پښتونخوا کښې دهشت ګردي نۀ منو نۀ منو"، "کوئټه ، کراچۍ کښې د پښتنو وژنه – بنده دې شي، بنده دې شي"، تعليمي ادارو کښې پرامن تعليمي ماحول غواړو. په اخره کښې جلسه په پرامنه توګه ختمه شوه.